لیکوال: محمداعظم سیستانی
ژباړن: عبدالعزیز نایبي

۲۰۲۲/۱۲/۱۹

د کودتا د دسیسې پیل او د داود نسکورېدل

د ۵۷۱۳ کال د وري په ۲۷ د خلق دیموکراتیک ګوند یو مهم غړی میراکبر خیبر د دولتي مطبعې په شاتني واټ کې ووژل شو. دا ترور د شوروي د «کا. جي.بي» د جواسیسو په وسیله او مشوره ترسره شوی وو. د هغه قتل د لویو لاریونونو، د ګوند د ځینو غړو د نیول کیدو او د ثور د کودتا لامل شو. تره کی د خیبر د تدفین پرمهال دولت دهغه په وژنې تورن کړ او د کسات د اخیستو هوډ یې څرګند کړ. پداسې حال کې چې داود د خیبر له وژل کیدو خبر نه و. د خیبر له مړینې او د هغه د ګور پرسر د خلق دیموکراتیک ګوند د مشرانو د احساساتو له څرګندیدو وروسته، دولت د نورو ناوړه پیښو د رامنځ ته کیدو د مخنیوي لپاره له عدلیې وزارت سره تر قانوني مشورې وروسته، د ګوند د ځینو مشرانو په نیولو لاس پورې کړ.
د ۱۳۵۷ کال د غوایي د ۵ نیټې په ماښام کابل رادیو د نورمحمد تره کي، ببرک کارمل، دکتور شاه ولي، محمد حسن ضمیر، دستګیر پنجشیري، عبدالحکیم شرعي جوزجاني او حفیظ الله امین د نیولو خبر خپور کړ.خو حفیظ الله امین ۱۱ ساعته وروسته یعنی د غوایي په ۶ په خپل کور خوشحال مینه کې ونیول شو او د کابل ولایت توقیف ته وسپارل شو. د امین په نیولو کې ځنډ هغه ته وخت ورکړ چې د کودتا نقشه د خلق ډلې پوځیانو ته ورسوي.
د ۱۳۵۷ کال د غوایي ۷ د سهار لس بجې اسلم وطنجار له څو ټانکونو سره د زغروالي څلورمې قوا څخه د ښار په لور وخوځید او یولس نیمې بجې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته ورسیدل. محمد داود او دهغه کابینه له اندیښنې لرې په غونډه بوخت ول او د خلق او پرچم د مشرانو د مجازاتو په اړه یې پریکړې کولې چې ناڅاپه ټانکونو په ډزو پیل وکړ او دفاع وزارت یې ولړزاوه. د کابینې غړي له ځنډ پرته د ماڼۍ له بلې دروازې ووتل او خپلو وزارت خانو ته روان شول.
ویل کیږي چې د کورنیو چارو وزیرعبدالقدیر نورستاني د محمد داود د کار له دفتر څخه د پولیس سرمامور نورګل ته تیلفوني هدایت ورکړ چې تره کی، ببرک کارمل او د ګوند نور مشران چې کابل ولایت کې بندیان وو، ووژني. خو هغه د دې کار په ترسره کیدو کې ناغیږي وکړه او قضیه یې د کابل والي عبدالحکیم سره شریکه کړه. د کابل والي وویل چې سند لاس کې نشته او یواځې په شفاهي امر نه شي کولی څه وکړي، د هغوي وژنه یې وځنډوله او په پایله کې یاد کسان وژغورل شول.
د دفاع وزیر رسولي چې د غفلت او بې پروایي له وجې لاس او پښه شوی و، له لوی درستیزعبدالعزیز سره قرغې ته ولاړل او د هغې فرقې افسرانو ته یې امر وکړ چې د کودتاچیانو د ځپلو له پاره خپله قوا کابل ښار ته وخوځوي. خو له تګ وروسته د هغه امر د یوه خلقي افسر لخوا شنډ شو او د دې پرځای چې یاده فرقه د داود په ملاتړ لاس په کار شي، د هغه پرضد یې فعالیت پیل کړ. دغه راز د دفاع وزیر له دې وجې چې د کابل او بګرام په هوایي ځواکونو یې باور نه درلود ، د شیندنډ له هوایي ځواکونو څخه د مرستې غوښتنه وکړه، خو دغو الوتکو د زیات واټن له وجې له لسو دقیقو زیات د کابل په فضا کې نه شوای تمیدای، د دوست او دوښمن توپیر یې هم نه شوای کولی، ځکه د داود په ملاتړ عملا کوم کار ترسره نه شو او په پایله کې رسولي او د هغه لوی درستیز د کودتاچیانو لاسونو ته ورغلل او ووژل شول.
خو د جمهوري ګارد پوځیان په ډیره میرانه او ځوانمردۍ مقابلې ته پاڅیدلي وو. د جګړې اور د جمهوري ریاست د ماڼۍ شاوخوا ته بلې شوی و چې د ملي ګارد د توپ او ماشیندار په ډزو کې یو شمیر ټانکونه وسوځیدل او له منځه ولاړل. محمد داود د ګارد قومنده چې شمیر یې کابو دوه زره تنه وو خپله په لاس واخیسته چې له کودتاچیانو سره له څلورساعته جګړې وروسته هغوی شاتګ ته اړ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړل. خو د ټانکونو له تیښتې وړاندې د هوايي ځواکونو رئیس ارکان عبدالقادر د خواجه رواش له هوايي ډګر څخه هلیکوپتر ته وخوت او ځان یې د بګرام هوايي ډګر ته ورساوه، خلقي او پرچمي پیلوټانو ته چې هغوی د همداسې یویې ورځې انتظار کاوه امر وکړ چې ژرترژره د جمهوري ریاست ماڼۍ بمبارد کړئ.
شوروي کې جوړې الوتکې چې په میک ۲۱ او ۲۲ مشهورې وې، په شل میلي متري توپونو او له هوا څخه مځکې ته توغندیو باندې د ولسمشرۍ ماڼۍ تر اور لاندې ونیوه چې دا کار د ځمکنیو ځواکونو د تېښتې د مخنیوي، بیرته ګرځیدو او هدف په لور د پرمختګ لامل شو. پداسې حال کې چې د ولسمشرۍ ماڼۍ، د دفاع وزارت او د کابل رادیو شاوخوا سیمو کې خونړۍ جګړه په شدت روانه وه او د داود پلویانو په کلکه مقاومت کاوه.
د عیني شاهدانو په وینا خپله محمد داود هم په لومړي سر کې د کودتاچیانو د افرادو د ماهیت په اړه خبر نه و، خو وروسته د قادر او اسلم وطنجار او په عمومي ډول د کمونستانو د اقدام او کودتاه له څرنګوالي خبر شو او همغه و چې په خپلو لاسونو به یې د توپ مرمۍ سرتیرو ته ورکولې او ویل به یې: «بچیانو وولئ، چې د روس او افغان جنګ دی»
له غرمې وروسته شاوخوا دوه بجې د قرغې توپچي او راکټ انداز ځواکونه د کودتاچیانو په پلوي پاڅېدل. عبدالعلی وردګ چې وضعیت وکاته د ریشخور اومې فرقې او مهتاب قلعې ځواکونو ته ورغی او د داود خان په ملاتړ یې یاد ځواکونه سوق کړل. خو دغه ځواکونه هم ګذرګاه ته نیږدې د ځمکنیو او هوايي ځواکونو تر بریدونو لاندې راغلل او ښار ته له پرمختګ څخه پاتې شول. که څه هم دوه الوتکې یې رانسکورې کړې، خو د شدید بمبارد او ښار کې د خلکو د تلفاتو او کورونو د ړنګیدو اندیښنه یویخوا او د قرغې د توپچي او راکټ انداز ځواکونو پرلپسې حملې بلخوا، دوی شاتګ ته اړ کړل. په پاېله کې محمد داود ته کومه مرسته و نه رسیده او عبدالعلي وردګ او نور لوړپوړي افسران هم په دغه جګړه کې په شهادت ورسیدل. په همدې ورځ له غرمې وروسته رادیو افغانستان د وسله والو کودتاچیانو په ولکه کې راغله . ماښام مهال یې عادي خپروني پرې شوې. له دې سره جوخت د کورنیو چارو وزارت او کابل ولایت هم د هغوی لاس ته ورغلل، تره کی او د هغه ملګري د کودتاچیانو په وسیله د کابل ولایت له زندان څخه خوشې شول او رادیو افغانستان ته ولېږدول شول.
د ماښام شاوخوا اوه بجې حفیظ الله امین د پاڅون پوځي مشران د رادیو له طریقه خلکو ته وروپېژندل، وروسته عبدالقادر په خبرو پېل وکړ او د داود د رژیم د نسکوریدو او واک ته د خلق دیموکراتیک ګوند د رسیدو په اړه خبرې وکړې. وروسته اسلم وطنجار د هغه خبرې په پښتو تکرار کړې. له دې سره، سره داود خان او د هغه د ګارد قوماندان صاحب جان له مقاومت څخه لاس پر سر نه شول.
د الوتکو بېدرېغه بمبارد او د ۱۹۰ میلیمتره کالیبر توپونو ډزې د سهار تر څلورو بجو پورې د ولسمشرۍ پر ماڼۍ له کوم ځنډ پرته دوام درلود چې په پاېله کې یې د ګارد نیږدې زر کسان په شهادت ورسېدل او نور اړ شول چې تسلیم شي. د جمعې ورځ د غوايي اتمه د ریشخور او مهتاب قلعې ځواکونه د سهیل او سهیل ختیځ لورو څخه وغوښتل ښار ته نفوذ وکړي او د داود مرستې ته ودانګي، خو ښار ته نه وو رسیدلي چې د داوود د وژل کیدو خبر له رادیو افغانستان څخه خپور شو او یاد ځواکونه بېرته خپلو قرارګاوو ته ستانه شول. تر هغه وروسته نورو پوځي قوماندانانو په حسین کوټ، هرات، کندهار، غزني، پکتیا او نورو سیمو کې یو په بل پسې له نوي رژیم څخه خپل ملاتړ اعلام کړ. پدې ترتیب د ۱۳۵۷ کال د غوايي د اتمې نېټې په لومړیو ساعتونو کې دولتي واک عملا د خلک دیموکراتیک ګوند د کودتاچیانو لاس ته ورغی.

سرچینه:

ـ سیستاني، محمد اعظم. مقدمه یی بر کودتای ثور و پیامدهای آن در افغانستان، لومړی چاپ ګوتنبرګ، سویدن – ۱۹۹۵م
ـ سیستانی، محمد اعظم. مقدمه یی بر کودتای ۷ ثور و فجایع ۸ ثور در افغانستان، دوهم چاپ کابل: دانش مطبعه، ۲۰۱۵م، ص ۸۳-۸۷

ژباړه: عبدالعزیز نایبي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ